د افغانستان اسلامي جمهوریت
د مطبوعاتو ریاست
د جمهور رئیس دویاند دفتر

جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست مطبوعات
دفتر سخنگوی رئیس جمهور

www.president.gov.af

خبر
د ۱۳۹۰ د کب ۲۶مه

# د پنجوايي اوسيدونکي: بهرني ځواکونه دی له کليو نه راوايستل شي

## سيمه ايز استازي: د پنجوايي پيښی د افغانستان ټول ملت دردولی دی

د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ په زنګ آباد سيمه کی د امريکايي سرتيرو لخوا د ملکي وګړيو د وژنی د پيښی د تحقيق لپاره ليږل شويو هيأتونو او د پيښی د قربانيانو کورنيو د هيواد له جمهور رئيس سره وکتل.

په هغه غونډه کی چی له همدی امله نن له غرمی وروسته په ارګ کی جوړه شوی وه او د پيښی د قربانيانو کورنيو هم پکی ګډون کړی ؤ، په پيل کی جمهور رئيس او د غونډی برخه والو د پنجوايي د شهيدانو لپاره ددعا لاسونه پورته کړل او دوی ته يی د لوی خدای له دربار څخه د فردوس جنت غوښتنه وکړه.

وروسته د هيواد جمهور رئيس يو ځل بيا د پنجوايي د پيښی د شهيدانو کورنيو ته د خپلی ژوری خواخوږۍ او ډاډګيرنی مراتب څرګند کړل او له دوی څخه يی د دغی دردناکی پيښی له امله د زغم او حوصله مندۍ د درلودلو په خاطر مننه وکړه.

وروپسی د شهيدانو د کورنيو نه لومړی حاجی عبدالصمد اکا چی د کورنۍ غړي يی له لاسه ورکړي دي خبری وکړی، ويی وويل چی موږ د امريکايانو له لاسه تږکری تږکری يو، حکومت دی زموږ ناره واوري، دلته د پيسو اخيستلو، حج ته د ليږلو او د ځمکو د غوښتلو لپاره نه يو راغلي، بلکی موږ ددی لپاره راغلي يو چی زموږ غږ واوريدل شي.

ده زياته کړه چی امريکايي سرتيرو يی په کور باندی پنځه، شپږ ځله چاپه وهلی ده، موږ له دغو ځواکونو نه سخت په عذاب يو، موږ يو، يو مه پری ختموئ. له حکومت نه مو غوښتنه ده چی د پيښی عاملينو ته دی سزا ورکړي او په افغانستان کی دی يی ورکړل شي.

وروسته د پيښی د يوه بل قرباني ورور چی خپل ورور او وريره يی په نوموړی پيښه کی له لاسه ورکړي دي، خبری وکړی ويی ويل چی امريکايي سرتيري د شپی دری بجی شاوخوا د ورور کور ته يی ورننوتل، او لومړی يی په دی نامه له خوبه راپاڅاوه چی ګويا طالب دی، او بيا يی زما زما د وريندارۍ په وړاندی شهيد کړ.

ده زياته کړه چی د امريکايي چاړواکو دا خبره د نه منلو ده چی وايي د پيښی تر سره کوونکی يو کس و او يا يی هم دماغي ناروغي درلوده، نوموړي پوښتنه وکړه چی دا څه ډول ليونی دی چی په خپل ځان ډزی نه کوي او نه هم نورو امريکايانو ته څه وايي.

وروپسی د شهيدانو د ورثه وو له ډلی نه يو بل کس چی د کورنۍ ۱۱ تنه غړي يی له لاسه ورکړي دي خبری وکړی ويی ويل چی امريکايي سرتيرو دغه کسان په څلورو بيلو بيلو خونو کی شهيدان کړل، لومړی يی زما مور شهيده کړه، بيا يی زما اولادونه شهيدان کړل او وروسته يی په يوه خونه کی واچول او اور يی ور واچاوه، زه يی ميراث کړم، زما په کور کی يی څوک را پری نښودل.

ده، د هيواد جمهور رئيس ته وويل چی موږ نور څوک نلرو چی غم مو وخوري، پر تاسو باندی ژاړو، تاسو زموږ مشران ياست او تاسی بايد زموږ غمه وخورئ.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

وریسی د پنجوایي ولسوالی یو قومي مشر د پیښی په اړه نور معلومات ورکړل، ویی ویل چی نوموړی پیښه په نیمه شپه رامنځ ته شوه او امریکایي سرتیري د الوتکو او رڼا اچوونکو په مرسته د ټولو افغاني او انساني اصولو پر خلاف د خلکو پر کورونو ورننوتل او هغوی شهیدان او ټپیان کړل.

د پنجوایي دغه قومي مشر وویل چی په دغه پیښه باندی نه یوازی د کندهار خلک غمجن شوي دي، بلکی د ټول افغانستان ملت یی دردولی دی او نوموړی پیښی په ټولو باندی مساوي درد ویشلی دی.

نوموړي زیاته کړه چی ددی پیښی عامل یو سړی نه دی، دا څرنګه کیدلای شي چی یو سړی دی راووزي او په څو کورونو کی دی د مسلمانانو وینه تویی کړي، خپل قوماندان ته دی هیڅ نه وایي، او بیرته دی په جوړو پښو خپلی قرارګاه ته ستون شي. که دوی وایي چی د پیښی قاتل روحي ناروغي درلوده، نو ولی دوی لیونیانو ته په خپلو سرتیرو کی د دندی اجازه ورکوي؟

ده وویل چی له دی پیښی پوره څلور ورځی مخکی په زنګ آباد سیمه کی د امریکایي سرتیرو یو ټانک په ماین الوتلی وو او دوه سرتیري یی پکی وژل شوي وو، او بیا امریکایي سرتیرو د سیمی خلکو ته ګواښ کړی وو چی ددغو سرتیرو انتقام به د افغانانو له شلو کسانو نه واخلي. نو دا پیښه د منظم پلان له مخی تر سره شوه.

قومي مشر د افغانستان له جمهور رئیس نه وغوښتل چی که غواړي د افغانستان د خلکو ټوکر ټوکر زړونه ورغیړي نو د پیښی عاملین دی د افغانستان د ننه په سزا ورسول شي، ځکه د پیښی تر سره کوونکي په افغانستان کی دننه جرم تر سره کړی دی.
همدا راز د پنجوایي استازي د افغانستان له حکومت نه وغوښتل چی امریکایي سرتیري دی له کلیو نه راوایستل شي او په قرارګاوو کی دی ځای پر ځای شي او پر ځای دی یی د ملي اردو یا ملي پولیسو سرتیري هلته ولیږل شي.

وریسی د ملي دفاع وزارت لوی درستیز شیرمحمد کریمي چی له کابل یی د ورغلي پلاوي مشري پر غاړه وه، د هیواد جمهور رئیس ته خپل ریپوټ وړاندی کړ، ویی ویل چی د امریکایي قرارګاه او کلیو تر منځ شاوخوا دری کیلو متره فاصله وجود لري، خو په سرتیري په همدی فاصله د پنجوایي د خلکو پر کورونو ورننوتلي دي او دوی یی شهیدان کړي دي.

لوی درستیز زیاته کړه چی له کابل نه سیمی ته تللي پلاوي دری ورځی هڅه وکړه تر څو د پیښی له تر سره کوونکي سره په خپله او له نږدی وګوري، خو امریکایي چارواکو ورسره هیڅ ډول مرسته ونه کړه.

د پنجوایي د پیښی د قربانیانو د ورڅه وو او د ټاکل شویو پلاوو له خبرو او وړاندیزونو وروسته، د هیواد جمهور رئیس وویل چی ستاسو له معلوماتو نه دا ښکاره شوه چی د نوموړی پیښی تر سره کوونکی یو کس نه دی، بلکی څو کسان پکی شامل دي.

حامد کرزي وویل چی له څلورو، پنځو کلونو راهیسی مو له بهرنیانو سره په همدی مسأله جدي خبری اتری رواني دي چی تروریستان او طالبان د افغانستان په کلیو او باندو کی وجود نلري، نو بهرني ځواکونه دی د هیواد له کلیو نه راووزي او پر هغو ځایونو دی تمرکز وکړي، چی تروریستان هلته موجود دي.

همدا راز جمهور رئیس زیاته کړه چی له څو کلونو راهیسی مو د شپی د عملیاتو او په افغانستان کی له امریکایانو سره د بهرنیو زندانونو په اړه بحثونه سره دوام لري، چی په دی برخه کی مو یوه اندازه پرمختګ هم کړی دی او د وروستي قرارداد له مخی به په راتلونکو شپږو میاشتو کی ددغو زندانونو مسؤولیت په بشپړه توګه د افغانستان حکومت ولیږدول شي.

جمهور رئیس زیاته کړه چی د پنجوایي پیښه د لیوني سړي عمل نه دی، بلکی یوه قصدي وژنه ده او پکار دي چی عاملینو ته یی سخته سزا ورکول شي.

حامد کرزي ددارنګه پیښو بیا تکرار د افغانستان د خلکو او نړیوالو ځواکونو په تاوان وباله او هیله یی وکړه چی په راتلونکی کی بیا تکرار نشي.

---


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دغه راز د هیواد جمهور رئیس د پنجوايي د خلکو ددغی غوښتنی په اړه چی بهرني ځواکونه دی له کلیو او بانډو نه راووزي، وویل چی تیره ورځ مو اعلان وکړ چی نړیوال سرتیري دی د افغانستان له کلیو نه راووزي او په خپلو قرارګاوو کی دی ځای پر ځای شي  چی په دی اړه نن سهار د امریکا د متحده ایالاتو جمهور رئیس بارک اوباما هم ټیلیفون راکړی و او خبری اتری مو ورباندی وکړی.#



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ